بسم الله الرحمن الرحيم

ګڼه: ۲۱۲

نېټه: ۱۴۴۵/۴/۱۱هـ ق

## د مدرسو د تأسیس، تثبیت، د استاذانو او کار کوونکو د تقرر قانون د انفاذ په هکله د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی

# فرمان

**لومړۍ ماده:**

د مدرسو د تأسیس، تثبیت، د استاذانو او کار کوونکو د تقرر قانون په (۲) فصلونو او (۱۴) مادو کې توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د نوموړي قانون له متن سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

والســــــلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده

## د مدرسو د تأسیس، تثبیت، د استاذانو او کار کوونکو د تقرر

# قانون

بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمد لله رب العلمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله وأصحابه أجمعین.**

**مبنی**

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی ورعاه د شفاهي حکم په اساس چې په ۱۴۴۴/۱۲/۲۹ هـ ق نېټه یې د پوهنې وزارت مسئولینو ته کړی و.

### لومړی فصل

### عمومي حکمونه

**موخې**

**لومړۍ ماده:**

۱. دیني مدرسو ته د تثبیت شرایط ټاکل.
۲. د مدرسو د تأسیس او جوړېدلو لپاره د معیارونو او شرایطو ټاکل.
۳. د اسلامي زده کړو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی ورعاه د پرېکړو او حکمونو عملي کول.
٤. د تدریسي، اداري او خدماتي چارو د با استعداده او وړ شخصیتونو د جذب له لارې د اسلامي زده کړو د تعلیمي ادارو ځواکمنول.
٥. د مدرسو لپاره د تقرر بهیر ګړندی کول.
٦. د تقرر په جریان کې د مسئولو مراجعو د صلاحیتونو او مسئولیتونو تثبیت.

**اصطلاحګانې**

**دویمه ماده:**

**د دیني زده کړو مدرسې:** په دې کې مدرسې، دارالحفاظونه، دارالعلومونه، کلیوالي مدرسې او دارالایتامونه شامل دي.

**د تعلیمي چارو کارکوونکي:** له هغو کسانو څخه عبارت دي چې تدریسي مکلفیت ولري او د پوهنې وزارت په تشکیلاتو کې مدرس استاذ وي.

**اداري کارکوونکي:** له هغو کسانو څخه عبارت دي چې اداري مکلفیت ولري او د پوهنې وزارت په منظور شوو تشکیلاتو کې مامور وي.

**خدماتي کارکوونکي:** له هغو کسانو څخه عبارت دي چې خدماتي مکلفیت ولري او د پوهنې وزارت په منظور شوو تشکیلاتو کې اجیر وي.





CamScanner

**تعلیمي مرحلې:**

**درېیمه ماده:**

۱. **لومړۍ مرحله:** د کلیوالي مدرسو درې صنفونه، ابتدائیه، متوسطه او اولی درجه.

۲. **دوه یمه مرحله:** ثانیه، ثالثه، رابعه، خامسه، سادسه، او سابعه درجې.

۳. **درېیمه مرحله:** ثامنه، تاسعه، عاشره او حادي عشره درجې.

**د مدرسو په درجو کې د طالبانو شمېر:**

**څلورمه ماده:**

د مدرسو په لومړنۍ مرحله کې د یوې درجې د رامنځته کولو لپاره د حاضرو او موجودو طالبانو د حد اکثر شمېر په لاندې ډول دی:

۱. په لومړنۍ مرحله کې حد اقل ۱۰ تنه او حد اکثر ۳۰ تنه.

۲. په دوه یمه او درېیمه مرحله کې حد اقل ۵ تنه او اکثر ته یې حد نشته.

۳. په دارالحفاظونو کې د یوه استاذ لپاره د حاضرو او موجودو شاګردانو شمېر حد اقل ۵ او حد اکثر ۲۰ تنه دی.

٤. په دار الحفاظونو کې دې د کلیوالي مدرسو له نصاب څخه د دوی د استعداد موافق نصاب ورته انتخاب شي.

**د مدرسو د تثبیت معیارونه**

**پنځمه ماده:**

هغه مدرسې چې عملاً فعالیت لري، د لاندې شرایطو په پوره کولو سره دوی ته د معارف وزارت له خوا تشکیل ورکول کیږي.

۱. یادې مدرسې باید د درسي درجو د تدریس لپاره ځانګړی ځای ولري.

۲. یادو مدرسو باید په درسي درجو کې د طالبانو حد اقل شمېر پوره کړی وي.

۳. یادې مدرسې باید برحال استاذان ولري چې په درسي درجو کې عملاً په تدریس بوخت وي.

٤. هغه مدرسې چې عملاً فعالیت ولري، له نورو مدرسو سره یې فاصله په نظر کې نه نیول کیږي.

**د نویو مدرسو د جوړولو معیارونه**

**شپږمه ماده:**

۱. د درجو د تدریس او د طالبانو د جذب لپاره امکانات ولري.

۲. د لومړۍ مرحلې د نویو مدرسو باید فاصله له نورو مدرسو سره یو کیلو متر وي. په نورو مرحلو کې د نویو مدرسو نوموړې فاصله باید پنځه کیلو متره وي.

**د مدرسو د تثبیت او جوړولو پړاوونه**

**اوومه ماده:**

۱. د مدرسو جوړوونکو لخوا په مرکزونو کې د پوهنې ریاستونو او په ولسوالیو کې د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته د غوښتنلیکونو وړاندې کول او د پوهنې رئیس لخوا تثبیت او جوړولو جریان د پیلولو لپاره د هیئت ټاکلو په موخه د اسلامي زده کړو پر آمریت، د پلان عمومي مدیریت، د احصایې مدیریت او د تعلیمي نظارت عمومي مدیریت باندې احکام ورکول.د یاد هیئت مشر به عالم وي.

۲. د ولسوالۍ پوهنې آمر، د تعلیمي نظارت عمومي مدیر او د اسلامي زده کړو آمر لخوا د مدرسو د جوړېدلو او تثبیت جدولونو تائیدي.

۳. د پوهنې رئیس په لاسلیک د رسمي مکتوب په وسیله د پلان مدیریت لخوا د اسلامي زده کړو معینیت ته د ولایتي چارو سمون ریاست له لارې د مدرسو د جوړېدلو او تثبیتولو تائید شوي جدولونه لېږل.

٤. د اسلامي زده کړو معینیت لخوا د مدرسو د جوړېدلو او تثبیت پر جدولونو د نظر څرګندول او د منظورۍ اخیستلو لپاره د وزارت مقام ته پیشنهادول.

٥. د مدرسو ځانګړي شوي تشکیل، د وزارت مقام له خوا احکام او نوموړي پیشنهادونه اداري معینیت ته راجع کول.

٦. په اداري معینیت کې د تشکیل د جریان پوره کېدل، د اسلامي زده کړو معینیت په عنوان د مکتوب لېږل او د معلوماتو شریکولو په موخه د پلان، مالي او حسابدارۍ او احصایې ریاستونو سره د مکتوبونو نقل شریکول.

۷. د اسلامي زده کړو معینیت لخوا د مکتوب ترلاسه کول، د تشکیل د منظورۍ او مدرسو ته د ځانګړي شوي تشکیل د ابلاغولو په موخه اړوندو ولایتونو ته تکثیرول.

**مسئوله مرجع**

**اتمه ماده:**

1. د اسلامي زده کړو معینیت
2. اداري عمومي ریاست
3. د ولایتونو د پوهنې ریاستونه
4. د ولسوالیو د پوهنې آمریتونه
5. د مدرسو مسئولین

**د تقرر شرطونه**

**نهمه ماده:**

مقررېدونکی شخص به د افغانستان تابعیت لري.



CamScanner

۱. عمر به یې له اتلسو کلونو څخه کم نه وي او لوړ عمر یې په نظر کې نه نیول کېږي په دې شرط چې د تدریس توان ولري.
۲. د داخلي یا بهرنیو رسمي یا غیر رسمي مدرسو څخه به د فراغت معتبر سند لري.
۳. د خدماتي اجیرانو د تقرر په شرایطو کې د دې مادې یوازې لومړی او دوهم بند په نظر کې نیول کېږي.

د مدرسو د تعلیمي او اداري چارو د کارکوونکو په تقرر کې تدریسي او کاري تجربې په نظر کې نیول کېږي.

## دوه یم فصل

## د تقرر پړاوونه

### د تقرر لپاره د اشخاصو معرفي کول

لسمه ماده:

(۱) په مدرسو کې استاذان، ناظم او نور کار کوونکي د مهتمم له خوا معرفي کیږي.

(۲) د مدرسې په منظور شوي تشکیل کې هغو اشخاصو ته لومړیتوب ورکول کیږي چې د علمي استعداد تر څنګ یې د مدرسې په فعالولو کې پوره مرسته کړې وي.

**یوولسمه ماده:**

**د مقرریو تائیدي**

د ولسوالیو پوهني آمریتونه به د مدرسو د تعییناتو جدولونه څېړي او له تائیدۍ وروسته به یې رسماً اړوند پوهني ریاستونو ته لېږي.

**د ولایتونو پوهني ریاستونو له خوا د مدرسو د تعییناتو جدولونو تائیدي او د امتحان له لارې د مقررېدونکو اشخاصو علمي او نورو وړتیاوو ارزونه**

دوولسمه ماده:

(۱) د مدرسو د تعییناتو جدولونو له سموالي او د مقررېدونکو اشخاصو د علمي او نورو وړتیاوو څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د هر ولایت د پوهني ریاست په کچه لاندې هیئت تاکل کیږي:

۱. د پوهني رئیس د هیئت د رئیس په توګه.

٢. د اسلامي زده کړو آمر د هیئت د غړي په توګه.

٣. د جهادي مدرسو دوه تنه مشران علماء د هیئت د غړیو په توګه.

٤. د علماوو د شورى دري تنه مشران علماء د هیئت د غړیو په توګه.

٥. د اداري عمومي مدير د هیئت د غړي په توګه.

٦. د تشکیل مدير د هیئت د منشي په توګه.

(٢) د کابل ښار هیئت به د اسلامي تعلیماتو په معینیت کې له لاندي اشخاصو څخه جوړیږي:

١. د مدرسو رئيس د هیئت د مشر په توګه.

٢. د اداري عمومي رياست يو تن نماينده د هیئت د غړي په توګه.

٣. د تشکیل رياست يو تن د هیئت د غړي په توګه.

٤. د جهادي مدرسې دوه تنه مشران استاذان د هیئت د غړیو په توګه.

٥. د علماوو د شورى دوه تنه مشران علماء د هیئت د غړیو په توګه.

(٣) د دې مادې په اوله فقره کې د یاد شوي هیئت مکلفیتونه:

١. د مدرسې له منظور شوي تشکیل سره د تقرر د جدولونو تطبيق.

٢. د تقرر په جدولونو کې د تشکیلاتو خاصې شمېرې رسول.

٣. د تقرر جدلونو د ناسم والي په صورت کې ټاکل شوی هیئت مکلف دی چې د تصحیح لپاره يې اړوند پوهني آمريت ته د يوه رسمي مکتوب په وسیله مسترد کړي.

(۴) د دې مادې په دریيمه فقره کې له راغلو شرايطو سره سم که د تقرر جدولونه سم وي د پوهني ولايتي رياستونه مکلف دي چې د استخدام د منظورۍ اخیستلو په موخه د تقرر جدولونه د يوه رسمي مکتوب له لارې د ولايتي چارو د سمون رياست په وسیله د اسلامي زده کړو معینیت ته ولېږي.

(۵) ټاکل شوی هیئت مکلف دی چې د تقریري امتحان له لارې د مقررېدونکو استاذانو علمي او تدریسي وړتیا تثبیت کړي.

(٦) د همدې مادې په (۵) فقره کې له یاد شوي امتحان څخه د لویې او وړې دورې استاذان، هغه علماء کرام چې سندونه یې د اسلامي امارت په تېره دوره کې ارزیابي شوي وي او هغه علماء کرام چې د اسلامي امارت د معارف له خوا تر امتحان وروسته سند ورکول شوی وي او یا د عالي تحصیلاتو له خوا ورکول شوی وي؛ مستثنی دي.

(۷) ټاکل شوی هیئت مکلف دی چې د مقرربدونکو استاذانو له فراغت، نظریې، مذهب او سابقې په اړه اطمینان ترلاسه کړي.

**د اسلامي زده کړو معینیت له خوا د ولایتونو د مدرسو د تقررۍ تائیدي**

**دیارلسمه ماده:**

د اسلامي زده کړو معینیت ته د ولایتي مقرریو د جدولونو له رسېدو او تائیدۍ وروسته، یاد جدولونه د منظورۍ اخیستلو په موخه د یوه پیشنهاد په وسیله د وزارت مقام ته لېږل کېږي.

**د تقرر د مراحلو موده**

**څوارلسمه ماده:**

د یوولسمې، دوولسمې او دیارلسمې مادې ټول مراحل دي په یوه میاشت کې ترسره شي.

**انفاذ**

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي او ټول هغه قوانین چې د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه اللّٰه تعالی ورعاه لخوا تایید یا توشیح شوې نه وي ملغی دي.

